امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱ الی ۶ حمل ۱۴۰۵

## شماره یکصدو چهل و هفتم

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د غزني ولایت د اسلامي ثقافت له مرکز څخه لیدنه وکړه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۷ نېټه غزني ولایت ته په خپل سفر کې د اسلامي ثقافت له مرکز څخه لیدنه وکړه.

محترم ترابي صاحب د دې مرکز له بېلابېلو برخو څخه د لیدنې پر مهال وویل، چې موږ غواړو د اسلامی ثقافت په تعمیراتو کی یو دوه منزله تعمیر چې ۱۴ اطاقونه لري او یو لوی ګدام خپل د پیښو ادارې لپاره د چارو د اداری څخه په کرایه ونیسو تر څو یو خو به مراجعینو ته سهولت او آسانی پیدا شي او...

ادامه در صفحه۲

### د کندهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۰۱۸ مستحقو کورنیو ته نغدي، خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRW او DRC موسسو په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۵ نېټه د یاد ولایت ۱۰۱۸ اړمنو کورنیو ته نغدي، خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې....

ادامه در صفحه۳

### د بلخ ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶,۰۶۹ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د SFL موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د بلخ ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست...

ادامه در صفحه ۴

### ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۵۰۸ خانواده بی‌جاشده داخلی کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه حمایت از اطفال، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری مالی و تخنیکی این مؤسسه، بتاریخ ۵ شوال المکرم...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د غزني ولایت د اسلامي ثقافت له مرکز څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۷ نېټه غزني ولایت ته په خپل سفر کې د اسلامي ثقافت له مرکز څخه لیدنه وکړه.

محترم ترابي صاحب د دې مرکز له بېلابېلو برخو څخه د لیدنې پر مهال وویل، چې موږ غواړو د اسلامی ثقافت په تعمیراتو کی یو دوه منزله تعمیر چې ۱۴ اطاقونه لري او یو لوی ګدام خپل د پېښو اداري لپاره د چارو د اداری څخه په کرایه ونیسو تر څو یو خو به مراجعینو ته سهولت او آسانی پیدا شي او بل به زموږ خوراکي او غیر خوراکي مواد په معیاري ګدام کې ځای پر ځای او محفوظ وساتل شي, او له بل پلوه به د امارت بودجه هم له بې ځایه لګښت څخه سپما شې.

د یادونې وړ ده, چې د اداري لوی رئیس, په دې اړه د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ته لارښوونه وکړه, چې ژر تر ژره ریاست ورته رانتقال کړي.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۰۱۸ مستحقو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRW او DRC موسسو په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۵ نېټه د یاد ولایت ۱۰۱۸ اړمنو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د IRW موسسې له لوري ۹۶۲ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ کیلو وریجې، ۸ لیټره غوړي، ۲۰ پاکټه آش، ۷ کیلو نخود، ۵ کیلو لوبیا او ۳ کیلو خرما او د DRC موسسې له لوري ۲۶ کورنیو هرې یوې ته ۱۹,۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال درې سوه او یو اتیا زره او پنځه سوه (۳۸۱,۵۰۰) افغانۍ د ۲۶ کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

همدارنګه د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوري ۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۲ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۲ جوړه ځپلکې او یو عدد صندوق ووېشل شول.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶,۰۶۹ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د SFL موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، "د مشروط او غیر مشروط مرستو" تر پروژې لاندې د مزار شریف ښار بېلابېلو ناحیو اړوند ۶,۰۶۹ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۶ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال اوولس میلیونه او شپږ سوه زره او سل (۱۷,۶۰۰,۱۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۵۰۸ خانواده بی‌جاشده داخلی کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه حمایت از اطفال، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری مالی و تخنیکی این مؤسسه، بتاریخ ۵ شوال المکرم سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۵۰۸ خانواده بی‌جاشده داخلی ناشی از جنگ در ولسوالی‌های مختلف آن ولایت کمک‌های نقدی توزیع نمود.
در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۱۰،۷۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع ۵،۴۳۵،۶۰۰ افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص داده شده بود.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۱۴ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نه آنلوس او د انټرساس موسسو په مالي ملاتړ، د دې ولایت د سروبي، ده سبز ولسوالیو او کابل ښار اړوند ۳۷۳ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۶ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې د نه آنلوس موسسې له لوري ۶۴ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ ډالر او ټولټال شپږ زره او څلور سوه (۶،۴۰۰) ډالر ووېشل شول او همدارنګه د انټرساس موسسې له لوري ۴۵۰ کورنیو هرې یوې ته د دریېم قسط ۵،۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال دوه میلیونه او شپږ سوه او لس زره (۲،۶۱۰،۰۰۰) افغانۍ نغدي پیسې د ۴۵۰ کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۸ بېځایه شویو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همکارو موسسو په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۶ نېټه په سپېره ولسوالۍ کې ۱۰۸ بېځایه شویو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې له همکارو موسسو څخه د سولیډېریټي نړیوالې موسسې ۱۸ کورنیو ته چې سرپرستان یې کونډې ښځې او یا هم معلولیت لرونکي کسان وو، هرې یوې ته ۱۳،۰۰۰ افغانۍ او نورو کورنیو هرې یوې ته ۱۰،۸۰۰ افغانۍ مرستې ووېشل شوې،
په پای کې د سیمې اوسېدونکو له همکارو موسسو او د امارت له مسؤلینو څخه د دغو مرستو د وېش په پار مننه او قدرداني وکړه.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۶۰ بېځایه شویو کورنیو ته روغتیایي بستې ووېشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د OCHR موسسې په ملاتړ، د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۴۶۰ بېځایه شویو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۷ نېټه روغتیایي بستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته یوه روغتیایي بسته ووېشل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان برای ۵۲۲ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع نمود




بر اساس تفاهم نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه اقدام برای انکشاف و رفا مناطق روستایی (AWDERO) ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان با همکاری موسسه متذکره، برای ۵۲۲ خانواده مستحق مربوط به آن ولایت، بعد از سروی بتاریخ ۶ شوال المکرم سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک های نقدی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسؤلان، به هر خانواده مبلغ ۲,۹۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ یک میلیون‌و پنج‌صدو سیزده هزارو هشتصد (۱,۵۱۳,۸۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰۰ بېځایه شویو کورنیو ته نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د VDO موسسې په مالي او تخنیکي ملاتړ، د دې ولایت په مهمندره، لعل پور او ګوشته ولسوالیو کې د جګړې له امله ۵۰۰ بېځایه شویو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۷ نېټه نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ۵,۸۰۰ افغانۍ او یو کارټن بسکېټ ووېشل شول، چې ټولټال دوه میلیونه او نه سوه زره (۲,۹۰۰,۰۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۱،۰۵۰ خانواده نیازمند کمک‌های غذایی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (ASIO) که تمویل‌کننده آن سازمان جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت این مؤسسه، برای ۱۰۵۰ خانواده نیازمند در ولسوالی دهنه‌غوری و ده‌صلاح آن ولایت پس از سروی، بتاریخ ۶ شوال المکرم سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۴.۵ لیتر روغن، ۶.۲۵ کیلو دال و ۱ کیلو نمک توزیع گردید.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۴ بېځایه شویو کورنیو ته نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو نړیوال سازمان په ملاتړ، په ارګون ولسوالۍ کې له پاکستان سره د جګړې له امله ۱۴۴ بېځایه شویو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۷ نېټه نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ۵،۸۰۰ افغانۍ او دوه کیلو بسکېټ ووېشل شول، چې ټولټال اته سوه او پنځه دېرش زره او دوه سوه (۸۳۵،۲۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۱۹ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت مالی مؤسسات SFL-WFP و IOM، برای ۱۹ خانواده آسیب‌دیده از اثر بارندگی‌های اخیر در نواحی مختلف شهر مزارشریف بتاریخ ۷ شوال المکرم سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسؤلان، از سوی مؤسسه SFL-WFP به هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو دال نخود، ۱۸.۲ کیلو روغن، ۲ کیلو نمک، ۲.۱ کیلو بیسکویت و از سوی دفتر IOM به هر خانواده کمپل، بسته فامیلی، چراغ سولری و ترپال پلاستیکی توزیع گردید. همچنان از جمله، برای ۲ خانواده که منازل‌شان طور کلی تخریب شده بود به هر کدام یک باب خیمه نیز توزیع شد.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت خوست برای ۱۰۸ خانواده بی‌جا شده کمک‌های نقدی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت خوست با حمایت مؤسسات GAALO و UNICEF، در ولسوالی سپیره، برای ۱۰۸ خانواده‌ای که به دلیل درگیری با پاکستان بی‌جا شده‌اند، بتاریخ ۸ شوال المکرم سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند، پس از انجام سروی و با حضور مسئولان، از سوی مؤسسه GAALO به هر خانواده مبلغ ۵،۸۰۰ افغانی پرداخت شد که در مجموع ۶۲۶،۴۰۰ افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود. همچنان از طرف دفتر یونیسف برای هر خانواده یک کیت بهداشتی و یک کیت فامیلی شامل وسایل آشپزخانه توزیع گردید.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د سېلاب له امله زیانمنو کورنیو ته بېړنۍ مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین په لارښوونه، د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د مرکز قلات د پل سنګي کلي دوه کورنیو ته چې د سېلاب له امله زیانمنې شوې وې د ۱۴۴۷ کال د شوال المکرم ۸ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

یادو کورنیو هرې یوې ته د لنډمهاله سرپناه د برابرولو لپاره یو باب خیمه او 2 بورۍ غنم ووېشل شول.

### عامه پیغامونه :

**19. د ودانیو جوړو په وخت کې د زلزلې خطر په نظر کې ونیسې څکه د زلزلې‌ټکل هیڅوک نسي کولای**

**20. د زلزلې وروسته د بیا لرزو په وخت کې چمتو اوسئ او په خلاصه فضا یا خیمو کې ځان وساتئ**

**21. د زلزلې وروسته د بیا لړزو په وخت کې د زیانمنو ودانیو څخه ځان لرې وساتئ او هغوی ته مه ورننوځئ**